# الذاريات

**مکی سورة دی ۶۰ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

وَٱلذَّٰرِيَٰتِ ذَرۡوٗا ١

**قسم دی په هغو بادونو چې( خاورې، دوړې او غبار) خپروی.**

فَٱلۡحَٰمِلَٰتِ وِقۡرٗا ٢

**قسم دی په هغو وریځو، چې( مختلفو سیمو ته د باران) درونډ بار رسوی.**

فَٱلۡجَٰرِيَٰتِ يُسۡرٗا ٣

**قسم دی په هغو کښتیو، چې د بحر په سطحه آرامې روانې دی.**

فَٱلۡمُقَسِّمَٰتِ أَمۡرًا ٤

**قسم دی په هغو پرښتو چې چارې( او الهی اوامر د تطبیق لپاره پخپلو منځو کې سره) ویشی.**

إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٞ ٥

**چې ( د حساب کتاب او مکافات او مجازات) په باب ستاسو سره شوې وعده رښتینې او نافذیدونکې ده.**

وَإِنَّ ٱلدِّينَ لَوَٰقِعٞ ٦

**او بیشکه چې د قیامت ورځ هرومرو راتلونکې او واقع کیدونکې ده.**

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡحُبُكِ ٧

**قسم (په روښانه ځلیدونکی او د ستورو او پرښتو لپاره) په لیارو لرونکی آسمان.**

إِنَّكُمۡ لَفِي قَوۡلٖ مُّخۡتَلِفٖ ٨

**چې ( ای مشرکانو! تاسو د قرآن او د هغه د موثقو او مستحکمو دلایلو په باب) بیلابیلې او ګډې وډې خبرې کوی.**

يُؤۡفَكُ عَنۡهُ مَنۡ أُفِكَ ٩

**(له حق نه باطل ته) هغه خلک منحرف کيږی چې( له خير او نيکمرغۍ نه) بې برخې وی.**

قُتِلَ ٱلۡخَرَّٰصُونَ ١٠

**مرګ دې وي په درواغجنو(اټکل کوونکو چې غواړی قرآن او په هغه کې مندرج مسلم او ثابت حقايق په درواغو او خودساخته اټکلونو رد کړی).**

ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي غَمۡرَةٖ سَاهُونَ ١١

**هغوی( چې د آخرت د اسرارو په باب) په کامله بې خبرۍ او د جهالت په تاريکيو کې ډوب دی.**

يَسۡـَٔلُونَ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٢

**(پرله پسې همدا يوه) پوښتنه کوی چې قيامت به کله راځی؟**

يَوۡمَ هُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ يُفۡتَنُونَ ١٣

**هغه ورځ چې دوی به په اور وسوځی.**

ذُوقُواْ فِتۡنَتَكُمۡ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تَسۡتَعۡجِلُونَ ١٤

**( او ورته به وويل شی:) خوندونه واخلئ له عذابه. هغه عذاب چې تاسو يې( په ملنډو او مسخرو) په تلوار د راتلو غوښتنه کوله.**

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ١٥

**بې له شکه چې پرهيزګاران به په جنتونو او چشمه زارونو کې هستوګن وی.**

ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُحۡسِنِينَ ١٦

**د خپل رب لورول شوی نعمتونه به( په مينه او خوښۍ) ترلاسه کوی، ځکه دوی لا له وړاندی نيکی کوونکی او محسنان وو.**

كَانُواْ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ ١٧

**د شپې به يې ډير لږ خوب کاوه،( او زيات وخت به يې په عبادت کې تيراوه).**

وَبِٱلۡأَسۡحَارِ هُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ١٨

**او سپيده داغ مهال به يې( له الله تعالی نه د خپلو ګناهونو او تقصيراتو) ښننه غوښته.**

وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ١٩

پخپلو مالونو او شتمنيو کې يې د تنګلاسو او بېوزلو سوالګرو لپاره برخه جلا کړې وه.

وَفِي ٱلۡأَرۡضِ ءَايَٰتٞ لِّلۡمُوقِنِينَ ٢٠

او په ځمکه کې د باور لرونکو لپاره( د الله تعالى د توحيد، ربوبيت او قدرت) ډېرې نښې دي.

وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ٢١

او ستاسو پخپلو ځانونو کې هم( نښې شته) نو آيا ورته ځير شوی نه يې؟

وَفِي ٱلسَّمَآءِ رِزۡقُكُمۡ وَمَا تُوعَدُونَ ٢٢

او ستاسو د رزق (او هر ډول مادی او معنوی امتيازاتو د څرنګوالی او اندازې فيصله) له پورته( الهي دربار) نه صادرېږی او د دې وعدې (فيصله هم په لوړو مقاماتو کې کيږی چې کله به د حشر او نشر، مکافات او مجازات او جنت او دوزخ لپاره راغوښتل کيږی).

فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِنَّهُۥ لَحَقّٞ مِّثۡلَ مَآ أَنَّكُمۡ تَنطِقُونَ ٢٣

نو قسم دی د آسمان او ځمکې په رب، چې( د قيامت راتګ)داسې حق او ثابت دی، لکه څنګه چې ستاسو خبرې کول يو واقعيت دی.

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ٢٤

آيا د ابراهيم د عزتمنو ميلمنو کيسه دې اوريدلې ده.

إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ٢٥

کله چې هغه ته ورغلل، سلام يې ورباندې واچاوه. ابراهيم ورته وويل: په تاسو دې هم سلام وی، خو بيخی راته نااشنا ياست.

فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجۡلٖ سَمِينٖ ٢٦

بيا خپل کور ته لاړ او چاق وريت کړی خوسکی يې ورته راوړ.

فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيۡهِمۡ قَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ ٢٧

ميلمنو ته يې وړاندې کړ( خو ويې ليدل چې ګوتې نه وروړی او نه يې خوری) پوښتنه يې وکړه: ولې يې نه خوری؟

فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا لَا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾

**او په زړه کې يې ترې ويره پيدا شوه. ميلمنو وويل: مه ويرېږه. او هغه ته يې د يوه هوښيار ځوی( د زيږيدو) زيری ورکړ.**

فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴿٢٩﴾

**ميرمن يې( چې زيری واوريد له حيرانۍ يې چيغه کړه او خپل مخ ته يې څپيړه ورکړه او ويل يې: يوه وچه او عقيمه بوډۍ( او زوی)؟**

قَالُوا كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿٣٠﴾

**(ميلمنو) وويل: هو- او همدغه ستا د رب وينا ده. بيشکه چې هغه د حکمت څښتن او پوه ذات دی.**

۞ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿٣١﴾

**(ابراهيم) وويل: ای رسولانو د راتلو هدف مو څه دی؟**

قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾

**هغوی وويل: مونږ د يوه مجرم قوم په لور راليږل شوی يو.**

لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ طِينٍ ﴿٣٣﴾

**ترڅو ورباندې کلالی ډبرې( له پخو ختو جوړ شوی کاڼی) راووروو.**

مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ ﴿٣٤﴾

**هغه کاڼی چې( يو- يو) يې ستا د رب له لوری د هر تيری کوونکی په نوم په نښه شوې دی.**

فَأَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾

**نو له ښاره مو ټول مؤمنين وويستل.**

فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾

**خو له يوه کور نه غير( چې اوسيدونکی يې الله تعالی ته تابع او عبادت کوونکی وو) نور مو هيڅ مسلمان و نه موند.**

وَتَرَكۡنَا فِيهَآ ءَايَةٗ لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٣٧﴾

(د ښار په ويجاړولو او د هغه د اوسيدونکو په تباه کولو سره مو د خپل قدرت او غضب) يوه نښه د هغو کسانو دعبرت لپاره پريښوده چې( د الله تعالی) د دردوونکی عذاب ويره ورسره وی.

وَفِي مُوسَىٰٓ إِذۡ أَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ﴿٣٨﴾

او د موسی (په داستان کې) هم چې فرعون ته مو له روښانه دليل سره واستاوه( د عبرت درس پروت دی).

فَتَوَلَّىٰ بِرُكۡنِهِۦ وَقَالَ سَٰحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٞ ﴿٣٩﴾

خو فرعون( او ملکی او نظامی) ارکانو يې( د حق له منلو ) انکار وکړ او ويې ويل:( دا سړی) يا کوډګر دی يا ليونی.

فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٞ ﴿٤٠﴾

نو( فرعون)مو د لښکريانو سره يو ځای درياب ته وغورځاوه، په داسې حال کې چې( له حق سره د دښمنی له امله) د عذاب وړ وو.

وَفِي عَادٍ إِذۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلرِّيحَ ٱلۡعَقِيمَ ﴿٤١﴾

او د عاديانو (کيسه هم له پند نه ډکه ده) چې مونږ ورباندې تباه کوونکی سيلی ورواستوله.

مَا تَذَرُ مِن شَيۡءٍ أَتَتۡ عَلَيۡهِ إِلَّا جَعَلَتۡهُ كَٱلرَّمِيمِ ﴿٤٢﴾

( داسې سيلۍ)چې هر شی به يې وروست او وچ زبيښلی کړ.

وَفِي ثَمُودَ إِذۡ قِيلَ لَهُمۡ تَمَتَّعُواْ حَتَّىٰ حِينٖ ﴿٤٣﴾

او د ثموديانو په حال کې هم( د عبرت نښه ده کله چې د اوښنۍ له وژلو وروسته) ورته وويل شول: تر لنډ وخته( دريو ورځو) مزې چرچې وکړی( بيا به د عذاب خوند واخلی).

فَعَتَوۡاْ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ﴿٤٤﴾

(خو چې کله يې د مهلت په هغو دريو ورځو کې هم) خپلې سرکشۍ ته دوام ورکړ، نو يوې مرګونې تکې( تندر) راونيول چې دوی ورته ړد ړد کتل( خو هيڅ يې له لاسه پوره نه وو).

فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مِن قِيَامٖ وَمَا كَانُواْ مُنتَصِرِينَ ﴿٤٥﴾

**نه يي پخپله د پورته کيدو( او له الهی عذابه د تيښتې) قدرت درلود، او نه ورته د  مرستې کوم لاس را اوږد شو.**

وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ٤٦

**او له دې وړاندې مو، د نوح قوم( هلاک کړی و ځکه) چې فاسق او( له الهی فرمان نه سرغړوونکی) قوم و.**

وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ٤٧

**او آسمان مو پخپل قدرت جوړ کړی او  هغه ته پراختيا ورکوو .( بيشکه چې الله تعالی د هغه) په پراختيا پوره برلاسی دی.**

وَٱلۡأَرۡضَ فَرَشۡنَٰهَا فَنِعۡمَ ٱلۡمَٰهِدُونَ ٤٨

**او ځمکه مو هواره غوړولې( او د ژوند لپاره مو اماده کړې ده) بيشکه چې مونږ  د هغې په هوارولو( او تيارولو) ډير ښه مسلط  يو.**

وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٤٩

**او له هر شی مو جوړه جوړه( او متضاد) پيدا کړی، ترڅو تاسو زمونږ( د قدرت او حکمت له نښانو) پند واخلی( او په دې هم پوه شی چې فرديت او وحدانيت يوازې الله تعالی ته ځانګړی دی).**

فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٥٠

**نو(ای پيغمبره خلکو ته ووايه چې) د الله تعالی( د عبادت او اطاعت) هڅه وکړی، زه د هغه له لوری تاسو ته( د برحق پيغمبر او) ښکاره تنبيه کوونکی پحيث راغلی يم.**

وَلَا تَجۡعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٥١

**او له الله تعالی سره بل څوک په خدايی کې مه شريکوی، زه د هغه له لوری تاسو ته په ښکاره او علنی توګه خبرداری درکوم( چې د شرک عواقب ډير ناوړه او  سزا يې هم ډيره سخته ده) .**

كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُواْ سَاحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٌ ٥٢

**(  يوازې ستا د عصر کافران ستا بې ادبی او ګستاخی نه کوی) بلکه له دوی نه وړاندنيو ولسونو هر يو د الله تعالی له لوری استول شوی پيغمبر د کوډګر او يا ليونی په نوم ياد کړی و.**

أَتَوَاصَوۡاْ بِهِۦۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ٥٣

**ته به وا ( د حق دښمنانو د پيغمبرانو په باب يو بل ته د نا حقه قضاوت) وصيت کړی؟خو، نه- بلکه دوی له ځيرمې( له حق منلو څخه)باغيان او سرغړوونکی دی.**

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٍ ﴿٥٤﴾

نو( ای پیغمبره!) له دغو (معاندو جاهلانو) مخ واړوه، ځکه ستا رسالت یوازې په دوی باندې د حجت پوره کول دی، نوره ملامتی( او ذمه واری) دربانديې نشته.

وَذَكِّرْ فَإِنَّ ٱلذِّكْرَىٰ تَنفَعُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٥﴾

البته خپل وعظ او نصیحت ته دوام ورکړه، ځکه ستا نصیحت د مؤمنانو لپاره ډېر ګټور ثابتیږی.

وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾

او پیریان او انسانان مې صرف د دې لپاره پیدا کړی چې زما بندګی او عبادت به کوی( او فطرتاً مې دا استعداد ورکړی چې د اطاعت او بندګی لاره پخپله غوره کولی شی).

مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ﴿٥٧﴾

نه زه له دوی نه رزق غواړم او نه ترې خوراک( څښاک).

إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ﴿٥٨﴾

بلکه الله تعالی پخپله( دوی او ټولو مخلوقاتو ته) روزی ورکوونکی او پیاوړی مقتدر ذات دی.

فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ ﴿٥٩﴾

(ستا د قوم) د ظالمانو لپاره هماغه عذاب مقرر دی، چې د دوی د (پخوانیو) ملګرو لپاره یې حکم صادر شوی و، نو په هغوی باندې د عذاب د نزول لپاره تلوار مه کوه.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن يَوْمِهِمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٦٠﴾

تباهی او هلاکت دی د کافرانو لپاره، په هغه ورځ( د قیامت) چې له دوی سره یې وعده شویده.

« تمت سورة الذاریات بفضل الله و رحمته»

======================